# A Comparative Study of Life and Prison Based Works of Khushal Khan Khattak and Masud Saad Salman.

# د خوشحال خان خټک او مسعود سعد سلمان

# د زنداني ژوند او ادبياتو تقابلي مطالعه

**Dr. Noor ul Basar Aman**★
**Dr.Syed Zafar ullah Bakhsali**★★

## ABSTRACT:

There are many commonalities in both Pashto and Persian languages. Both of these languages have been influenced by Arabic language, being a language of religious scripts of Muslims. Besides, Persian, a language of court, of sub-continent, has greatly influenced other languages of this region, including Pashto language. Pashto and Persian, being languages of nearly same geography and cultural background, have many similarities and commonalities in themes of their respective literatures.

In Pashto classical literature, Khushal Khan Khattak, the father of Pashto literature is a prolific writer. He has produced many masterpieces in Pashto poetry and prose. He has been jailed by Mughal emperor, Aurangzeb Alamgir. He spent a duration of five years in prison and wrote masterpieces in Pashto poetry and prose.
Similarly, Persian poet, Masud Saad Salman, has spent many years in prison and produced great literary works in prison. He has spent almost eighteen years in jail.

In this article, life and literary works of Pashto poet, Khushal Khan Khattak and life and works of Persian poet, Masud Saad Salman, will be studied and comparatively analyzed.
**Key Words: Prison, Khushal Khan Khattak, Masud Saad Salman**

په مشرقي ژبو او ادبياتو کښې ډېر اقدار،اصطلاحات،تلميحات،لسانيات او الفاظ مشترک دي د دې مشترک خصوصياتو ډېر وجوهات دي ،يوه غټه وجه يې دا هم ده چې دا ټولې ژبې ګاونډې ژبې دي او د يو بل سره د ډېر وخت تېربدلو او نزديکت د وجې نه

★ Assistant Professor Department of Pashto Malalkand University Chakdara
★★ Assistant Professor Department of Pashto Abdul Wali Khan University Mardan

د یو بل نه په څۀ نه څۀ حواله متاثره شوې دي. د ژبو د ماهرینو مطابق دا یو فطرتي عمل دے چې ګاونډې ژبې به د یوبل نه پور او ورکړه راکړه کوي[1] چې په نتیجه کښې یې په ژبو کښې د مشترک الفاظو او محاوراتو ذخیره سپوا کیږي. د نورو ژبو په نسبت د پښتو او فارسۍ لساني روابط لرغونے،زیات او هر اړخیز دي. د پښتو ادب وړمبے معلوم او مکمل کتاب خیرالبیان د بایزید انصاري چې په څلورو ژبو کښې لیکلے شوے دے چې یوه پکښې فارسي هم ده . فارسي تر ډیره وخته د هندوستان سرکاري،درباري او د خط و کتابت ژبه هم پاتې شوې ده. زمونږ په کلاسک ادب د فارسۍ ژور اثرات دي دا ځکه چې فارسي د هندوستان د نصاب،سرکار،دربار او خط وکتابت ژبه هم پاتې شوې ده.

" فارسي او پښتو دوه خویندې زړې،درنې او خوږې ژبې دي د دوي خصوصیت او انفرادیت د دوي خوږوالے او د الفاظو ذخیره ده. په حقیقت کښې په پښتو ژبه کښې دومره زړۀ راښکون او تاثیر موجود دے چې د عربۍ،فارسۍ او نورو ژبو بې شمیره لغات یې په خپله لمن کښې ځاے کړي دي. دا د پښتو ژبې او ادب د وسعت،جامعیت او انفرادیت یو جوت ثبوت دے. په پښتو ژبه باندې د فارسۍ اثرات د منظوماتو ، مصطلحاتو ، لغاتو ، متلونو محاورو او روزمرو په شکل کښې څرګند دي چې دا ژبه یې بې شانه مړه،پښه،درنه او خوږه کړې ده."[2]

دغه اثرات او مماثلات نه صرف تر عام ادب پورې محدود دي بلکې په فارسۍ او پښتو کښې د زنداني ادب او حبسیاتو مماثلت هم شته. د زندان او حبس اصطلاحات هم د فارسۍ نه پښتو ته راغلي دي ځکه دا مقاله د دواړو ژبو د دوه لوے مشهورو کلاسک شاعرانو زنداني ژوند او د ادبیاتو تقابلي جائزې ته ځانګړې شوې ده. په دغه دوه شاعرانو کښې د فارسۍ مشهور زنداني شاعرمسعود سعد سلمان او د پښتو خوشحال خان خټک دے.

د مسعود سعد سلمان لنډه پېژند ګلو

په فارسي ادبیاتو کښې مسعود سعد سلمان ته ډیر لوے مقام حاصل دے. د دۀ شمیر د غزنوي او سلجوقي دور په مشهورو شاعرانو کښې کیږي. د دوي ځائي وطن د ایران مشهور ښارهمدان ؤ خو مسعود سعد سلمان په ۴۰۴ ھ کښې د هندوستان د مشهور ښار لاهور په شاو خوا کښې پیدا شوید ے. د دۀ پلار سعد او نیکۀ سلمان د غزنوي سلاطینو د

دربار سره تړلي وو ـ د پلار نيکۀ په شان دۀ هم په ځوانۍ کښې د غزنوي خاندان پنځلسم بادشاه سلطان ابراهيم بن مسعود د دربار سره تعلق پېدا کړو ـ کله چې سلطان ابراهيم د هندوستان حکومت خپل زوي محمود چې په سېف الدوله مقلب ؤ په ۴۲۹ هـ کښې حواله کړو نو مسعود سعد د دۀ د دربار ملازمت اختيار کړو او خاصو کسانو کښې شمار شو ـ[3]

د مسعود سعد سلمان قېد وبند

د امير محمود په هندوستان کښې د څۀ وخت حکومت کولو نه پس سلطان ابراهيم ته چا دا اطلاع ورکړه چې امير محمود سلطان ملک شاه سلجوقي سره ساز باز روان کړې دے او د هندوستان نه عراق ته روان دے ـ د دې وجې نه امير محمود يې د خپلو درباريانو سره گرفتار کړو چې په دغه کسانو کښې مسعود سعد سلمان هم ؤ چې د امير د مصاحبينو په پاداش کښې اووۀ کاله په" دهک" او "سو" په قلعه گانو کښې او درې کاله په قلعه "نائي" کښې قېد کړے شو ـ[4]

د لس کاله قېد نه پس مسعود سعد د سلطان ابراهيم په مدحه کښې قصيده اوليکله،د سلطان نه يې معافي اوغوښتله او د دوستانو نه يې مدد طلب کړو ،چې د سلطان په مقربينو کښې يو عميد الملک عماد الدوله ابوالقاسم د دۀ سفارش اوکړو او د جېل نه په کال ۴۸۹ هـ يا ۴۹۰ هـ کښې آزاد کړې شو او په دويم ځل ئې بيا په قلعه "مرنج "کښې قېد کړو. دا ځل تقريباً اتۀ کاله قېد ؤ چې په ۵۰۰هـ کښې د سلطان مسعود وزيرثقۀ الملک طاهر علي مشگانې په سفارش آزاد شو او د شاهي کتب خانې په خدمت معمور شو. دغه شان مسعود سعد د خپل قيمتي ژوند تقريباً اتلس کاله په جېل کښې تېر کړل. په دوېم ځل د قېد نه پس ډېر زړۀ ماتې وو.خفه،کمزورے او بوډا شوې وو. مسعود سعد په ۵۱۵هـ کښې وفات شو.دغه وخت د دۀ عمر تقريباً (۷۵) کاله وو.[5]

حبسيات

د عوفي مطابق د مسعود سعد د شاعرۍ درې ديوانونه دي چې يو پکښې عربي هم دے خو په دې ټولو کښې فارسي ديوان موجود او مشهور دے ـ دا ديوان يو ځل په ۱۲۹۶ هجري شمسي کښې په تهران کښې او په دويم ځل په ۱۳۱۸ هجري شمسي کښې په سمونه د رشيد باسمي تهران کښې چاپ شوي دي ـ دا ديوان په قصيدو ،مثنويانو ،قطعاتو ،غزلونو او رباعياتو مشتمل دے[6] ـ د ياد شاعر د ټولو نه مشهور تخليق "حبسيات"دي چې د دۀ د

اتلسو کالو د قېد یادګار دے.د مسعود شعر و سخن ته چې دومره اوچت مقام حاصل دے دا د دې حبسیاتو کمال دے.د مسعود دا زنداني شاعري د خفګان او مصیبتونو د اوږدې سلسلې نتیجه ده.په دې کښې هغه چغې او آهونه اورېدلي شي چې د "دهک" ،"سو" ،"نائي" او "مرنج" قلعه ګانو په تیارهٔ کوټونو کښې د دهٔ په شاعرۍ کښې شامل شوي دي.د حیرانۍ خبره دا ده چې د مسعود غمزده او دردناکو شعرونو هم د سلطان په سنګین زړهٔ هیڅ اثر ونهٔ کړو.او دغه شان دې علمي شخصیت،شاعر او ادیب تر ډېره وخته پورې د زندان تکلیفونه برداشت کول[7]. د مسعود سعد هغه ځانګړې انداز چې دهٔ له ئې د ایران د لوے شاعرانو په صف کښې ځائې ورکړو هغه د دهٔ په زنداني اشعارو یا حبسیاتو کښې ښکاره دے. په زندان کښې د ځوانۍ او د قېد و بند د مصیبتونو کوم ذکر چې ئې په دې شعرونو کښې کړې دے، د هغې نه د شاعر د دردېدلي احساس اندازه لګي.

دریغا جواني و آه روزګار که از رنج پیری دل آګه نبود
نشاط من از عیش کمتر نشد امید من از عمر کوته نبود
بشا شب که در حبس بر من ګزشت که بنیاپي آن شب جزا کیه نبود[8]

ترجمه: مونږ ټول چې د قلعه نائي قېدیان یو نو مونږ خپله ټوله مال و متاع ببللې ده. هغه اوږده موده چې مونږ په زندان کښې تېره کړه داسې ښکاري چې یوه ګهېنټه د کال برابر وي.نن به زهٔ د ځوانۍ په عمر خنګه ناز اوکړم چې په بوډا والي کښې رانه دومره پرېشانۍ تاؤ دي.

" په فارسي ادبیاتو کښې یو شاعر د مسعود سعد سلمان په نوم زیات مشهور دے. هغه د غزنوي دربار مدیحه سرا شاعر وو او د همدې دربار لخوا د ځینو عواملو له مخې بندي شو. هغه په بېلا بېلو زندانونو او کلاګانو کښې د زندان اوږدهٔ کلونه تېر کړي دي. د ځینو څېړونکو د نظر په اساس هغهٔ ټول (۱۹) کاله په بېلا بېلو زندانونو کښې تېر کړل. د هغهٔ پهٔ دیوان کښې د زندان د دغو حالاتو ځائې ځائې انعکاس موندلې او د خپل درد و غم حالات ئې ډېر

ښۀ تصویر کړې دي."[9]

هفت سالم بکوفت سو ودهک پس از آنم سه سال قلعه نای[10]

د لس کاله قېد نه پس يې په يوه قصېده کښې خپل حال ليکلے دے او د سلطان ابراهيم په خدمت کښې يې اولېږلو-

بزرگوار خدایا چو قرب ده سالست	که می بکاهد جان من از غم و تیمار
چراز دولت عالی تو بہ پیچم روی که بنده زاده این دولتم به هفت تیار
نه سعد سلمان پنجاه سال خدمت کرد	بدست کرد برنج این همه ضاع و عقار
بمن سپردوز من بستدند فرعونان	شدم بعجز وضرورت زخان مان آور
بحضرت آمدم انصاف حواه وداد طلب خبر نداشتم از حکم ایزد دادار
همی ندانم خود را گناهی و جرمی	مگر سعایت و تبلیس دشمن مکار[11]

مور د دنيا د ټولو نه نزدے او مينه ناکه او پرخلوصه رشته ده شاعر په جېل کښې د مور ياد په دې الفاظو کښې ياد کړې دے ۔

اگر نبودی تیمار آں ضعیفه زال	که چشمهاش چو ابرست واشک چوں باران
خدای داند اگر غم نهادمی بردل که	حال گیتی هر گز ندیده ام یکساں
ولیک زالی دارم که در کنار مرا	چو جان شیریں پرورد مرد کرد و کلاں
نه بست هر گزاو را خیال و نندیشید	که من بقلعه سو مانم او به هندوستان[12]

مسعود په زندان کښې بې شمېره قصيدې ليکلي دي چې د دۀ د زنداني ژوند حال احوال ترې په ډېره ښۀ طريقه څرګندېږي، دغه قصيدې د فارسي حبسياتو بهترينه نمونه او قيمتي خزانه ده۔ په يوه زنداني قصيده کښې د خپلې مايوسۍ او بېوسۍ حال داسې بيانوي۔

نا کی دل خسته در گمان بندم جرمی که کنم بایں و آن بندم
بدها که بمن همی رسد از من بر گردش چرخ و بر زمان بندم
افتاده و خم چرا هوس چندین	بر قامت سرو بوستاں بندم

*دیں لاشہ خر ضعیف بدرہ را اندر دم رفتہ کاروان بندم*

*ایں سستی بخت پیر ہر ساعت در قوت خاطر جوان بندم*[13]

مشت نمونه خروار د مسعود سعد د حبسیاتو نه دا هغه نمونې دي چې چې نېغ په نېغه یا په څۀ واسطه د خوشحال خان خټک د حبسیاتو سره سمن خوري.

د خوشحال خان خټک لنډه پېژند ګلو:

په تاریخي حواله د پښتنومشاهیرو او بیا د اکثرو شاعرانو د ژوند په باره کښې معلومات تر اوسه په تیارۀ کښې دي خو خوشبختانه خوشحال خان خټک داسې یو اځنې شخصیت دے چې خپله پېژنګلو،شجره او د مشرانو نومونه یې پخپله په شعرونو کښې داسې ښودلي دي.

زۀ خوشحال د شهباز خان یم چې تورزن یم کان په کان
شهباز خان د یخی خان وۀ چې بل نۀ وۀ هسې ځوان
یحي خان د اکوړي وۀ چې په توره شو سلطان[14]

د نابغه دلیل یې د دې نه نور څۀ کېدے شي چې د خپل زېږون نېټه یې پخپله لیکلې ده حالانکې په داسې وخت کښې چې د دۀ نه د مشرانو او کشرانو شاعرانو او ادیبانو د زېږون نېټې معلومې نۀ دي او دغه تسلسل اوس هم دوام لري.

د هجرت زر دوه ویشت سن وۀ
چې زۀ راغلم په جهان[15]

د پښتنو دا نابغه شخصیت د شهباز خان خټک په کور کښې په سراے اکوړي کښې د لنډې سیند په غاړه د ربیع الثاني په میاشت ۱۰۲۲ ھ په مطابق مي جون ۱۶۱۳ء[16] کښې پیدا شو چې ټول ژوند یې د شور و شر او حادثو نۀ ډک تېر شوې دے،په دغه حادثو کښې یوه حادثه د زندان هم ده چې د خوشحال بابا ژوند یې بیخي بدل کړې دے په دغه دوران کښې چې بابا کوم ادب تخلیق کړې دے هغه هم د یو بیل نوعیت دے.بابا چې کله د حادثو نه زړۀ چادوې شوې دے نو په دې وېنا مجبوره شوې دے "زۀ یې چا لره وهم قدر یې چا زده" او په اخر کښې خو یې کور کلے هم پرېښے دے او په بیابان کښې یې د حسن خېلو اپرېدو

په سېمه د ډمبرۍ په مقام د ربیع الاول د میاشتې په ۲۸ مه نېټه د جمعې په ورځ کال ۱۱۰۰ ھ (۲۰ فروري ۱۶۸۹ ء)[17] د دوه کم اتیا کالو په عمر کښې د دې دنیا نه سترګې پټې کړې دي۔

د خوشحال بابا قېدو بند:

خوشحال بابا د خپل قېدو بند قیصه هم په شعرونو کښې بیان کړې ده د دوه سوه شل یا دوه ویشت بېتونو ترکیب بند ذوالقافیتین کښې خو یې بیا ښهٔ په تفصیل سره بیان کړې ده د دې نه علاوه یې په دې شعرونو کښې هم د قېد نه تر خلاصي پورې ذکر کړې دے۔

له بګرامه پېښې تړلے
هندوستان لره روان شوم

په دهلي په رنتنبور کښې
دې څلور کاله حېران شوم

په اګره کښې مې پېښې واشوې
بیا نوکر د بد سلطان شوم
د شجاع په شوروشر کښې
خپل وطن وته روان شوم[18]

په وسط د څلورمې خور په بند شوم
په رجب د بل کال وختم په ګړ

په پنځم د ذوالقعدې له ګړې کوز شوم
دوه کالونه پنځه میاشتې شي د تړ

ښهٔ تاریخ د استخلاص راله راغے
لاړ په کوزه د سید میر د مور لېړ"[19]

خوشحال بابا د جمادالثانې په مینځ کښې ۱۰۷۴ ھ کښې ګرفتارکړې شوې وو۔ دوه میاشتې په پېښور کښې د قېد نه پس دهلي بوتلے شو او د هندوستان د رنتهمبور په قلعه

کښې قېد کړې شو ،د څۀ وخت دپاره په اګره کښې نظر بند ساتلے شوې ؤ ،

"د يوې محتاطې اندازې مطابق د خوشحال د پېښور نه تر اګرې پورې د قېد او نظربندۍ موده څلور کاله او نهۀ يا لس مياشتې جوړېږي."[20]

افضل خان خټک د خوشحال بابا د قېدوبند او وطن ته د رارسېدو دغه موده پېنځۀ کاله ۱۰۷۹ ښودلې ده چې حقيقت ته ډېره نزدے ده ـ

"پينځه کاله په قېد په کشاله د اورنګزېب وۀ. فرزندان يې ونه شول. د هجرت چې زر انۀ اويا وۀ له عمدة الملک مهابت خانه سره وطن ته راغے"[21]

خوشحال بابا د چې د قېد و بند په دوران کښې کوم شعرونه ليکلي دي نو په هغې کښې يې دا خبره هم په ډاګه کړې ده چې زما هېڅ داسې ګناه نۀ وه چې د هغې سزا دې ماله د زندان په شکل کښې راکړې شي ځکه وائي چې زۀ په خپل تقصير او ګناه نۀ يم خبر چې زۀ ولې او په کوم جرم کښې ګرفتار کړې شوے يم ـ

پرورده کۀ د مغلو په نمک يم
د اورنګ له جوره هم له غريوه ډک يم
په ناحق يې په زندان کړم يو څو کاله
خدا ے خبر دے په خپل ګناه زۀ شک يم[22]

په ناحق د اورنګزېب په بند بندي يم
خدا ے خبر دے په تهمت او په بهتان

زۀ په ځان کښې ګناه نۀ وينم په خدائيګو
ولې نور خلق خبرې کا شان شان

د ګناه مې سر رشته نۀ ده معلومه
مګر خپل هنر د ځان وينم تاوان

لکه زۀ ووم په راستۍ په درستۍ کښې

د مغل په خدمت نهٔ ؤ بل افغان[23]

د خوشحال بابا حبسيات

خوشحال بابا د میعار،مقدار،موضوع او فن و فکر په لحاظ په تول پوره ادبي تخلیقات کړي دي ـ د روایاتو مطابق بابا دوه نیم سوه او درې نیم سوه کتابونه لیکلي دي کو د تحقیقاتو مطابق د بابا دیارلس آثار موجود دي۔ په دې آثارو دومره وسعت دے چې د ژوند داسې اړخ به نهٔ وي چې د هغې په حقله د بابا موجود نهٔ وي،زما د خپلې اندازې مطابق په کائنات کښې به داسې کم څېزونه وي چې خوشحال بابا به د هغې متعلق اظهار خیال نهٔ وي کړې ۔

د دې نه د بابا پوهې،زیرکتیا،ژوروالي،تجرباتو او نابغه اندازه په آسانه لګېدلے شي ـد خوشحال بابا په دغه آثارو کښې "زنداني ادب " هم موجود دے،د زنداني ادب خپل څهٔ هېئت نشته بلکې دا یو ماحولیاتي او واقعیاتي موضوعاتي صنف دے د دې د پاره قیدو بند مخصوص چاپېرچل شرط دے،په دغه حالاتو کښې چې په شاعرانو ادیبانو د ادب کوم الهامي کیفیات طاري شي او دې له د ادب د مختلفو اصنافو شکل ورکړي دې ته په ادبي اصطلاح کښې "زنداني ادبیات" او "حبسیات" وئیلې شي ـ

خوشحال بابا د خپل قیمتي ژوند پینځه کال د قیدوبند د حادثاتي ژوند نه تېر شوې دے په دغه حالاتو کښې چې بابا کوم ادب په مختلفو اصنافو کښې تخلیق کړې دے هغه ډېر خور ور پروت دے.

"د خوشحال بابا د ژوند په دغه ټولو اړخونو کښې یو د "زندان" اړخ هم دے چې تر اوسه پورې هغه شان نهٔ دے څېړلے شوے څنګه چې د دهٔ حق دے. لکه څنګه چې په پښتو ادب کښې د ډېرو اصنافو شروع خوشحال بابا کړې ده هم دغه شان یې د "زنداني ادب" د بنیاد کاڼے هم ایښے دے"[24]

خوشحال بابا په زندان کښې "فراقنامه"(نظم)،"دستارنامه" (نثر) او په کلیات کښې بېشمېره غزلونه،رباعیات،قصیدې او ترکیب بند ذوالقافیتین لیکلي دي ـ خوشحال خان په خپل وړومبي زنداني اثر فراقنامه کښې د رنتهمبور قلعه داسې ذکر کوي په کومه کښې چې خوشحال خان خټک قېد ؤ ۔

ننګیالي قبیلوي ګور ګور خو نهٔ دے رنتنبور

لس په کال پرې ننوځي ځني ووځي درې څلور[25]
يکتنها په کټ کښې پروت يم
بنديوان د هند د کوټ يم
دا مې حال دا مې احوال دے
که وايه شي ډېر مقال دے
چې په ما باندې دا حال دے
څهٔ دپاسه يو نيم کال دے
په دا کوټ کښې بنديوان دي
مسلمان دي کهٔ هندوان دي[26]

د فراقنامې يو نظم "اشتياق د خپل مور سره" تر عنوان لاندې د مور په ياد کښې داسې ګويا دے۔

چې دې ما د مور قدم دے هغه ملک په ما ارم دے
که د پښنو تلي يې کښل کړم دُر ګوهر پرې باندې تل کړم[27]

هسې خو د خوشحال خان خټک د ګرفتارۍ په سازش کښې د ډېرو کسانو لاس ؤ چې ټول يې په خپلو شعرونو کښې ياد کړي دي خو زياته غصه يې په بادشاه وخت اورنګزيب عالمګير کړې ده ځکه چې بغېر د څهٔ ګناه،تقصير او تفشيش نه يې ګرفتار کړم ۔

يا خوشحال خټک کافر دے
قاضي کښلے په محضر دے
چې بادشاه پرې نهٔ ګروهېږي
نهٔ مې زړهٔ باندې شرمېږي
که رښتيا وايم ابليس دے
ډک په مکر په تلبيس دے[28]

په هره سخته کښې شپه ډېره سخته وي په زندان کښې ټول ژوند سخت وي خو شپه پکښې بيا ډېره سخته وي د دغې سختۍ ذکر يې داسې کړې دے۔

فراق څهٔ رنګ را اوږده کړه په ما نن شپه
دجوزا شپه يې يلدا شي په غمژن شپه

دا نن شپه چې په خوشحال د فراق راغله
ور دې نشي هسې سخته په دشمن شپه[29]

څنګه چې مسعود سعد په اخر وخت کښې د زندان او بادشاهانو نه زړۀ چاودے ؤ،خوشحال بابا هم د بند نه پس مصمم اراده کړې وه چې یا به د مغلو نه د خپلو کړو بدل اخلم او یا به یو خوا ته کېنم عبادت به کووم۔

پس له بنده دے دا عزم
د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولے مخ مکې ته
یا مغولو سره رزم[30]

داسې ډېرې زیاتې خبرې دي چې د دې دواړه شاعرانو په زنداني ژوند او ادبیاتو کښې مشترک دي خو د دې تر څنګ یو څو داسې خبرې هم شته چې هغه د دې دواړو شاعرانو مختلف دي۔لاندې د دواړو شاعرانو مشترک او مختلف خصوصیات وړاندې کولې شي۔

مشترک زنداني خصوصیات

- د دواړو شاعرانو آبا و اجداد د خپل وخت د دربار سره تړلي وو ۔
- دواړه شاعران د هندوستان په سیمه لاهور او نوښار کښې زېږدلي وو چې د موجوده جغرافیې مطابق دغه دواړه ځایونه د پاکستان په حدود کښې راځي۔
- دواړو شاعرانو درباري ملازمت اختیار کړې ؤ۔
- دواړه شاعران د یو سازش د لاندې بېګناه ګرفتار کړې شوې وو ۔
- دواړه په قلعه ګانو کښې قېد کړې شوې وو۔
- دواړو په زندان کښې ادبي تخلیقات کړي دي۔
- دواړه د دربار د مخوریزو په سفارش راخلاص شوې دي۔
- د دواړو په شاعرۍ کښې د زندان سختۍ بیان شوې دي۔
- دواړو په زندان کښې د مور په یاد کښې شعرونه لیکلي دي۔
- د دواړو عمر تقریبا یو همره ؤ۔

مختلف زنداني خصوصیات

- خوشحال خان ختک فارسۍ کښې شاعري کړې ده خو مسعود سعد نۀ ده کړې.
- خوشحال بابا پينځه کاله او مسعود اتلس کاله قېد تېر کړې دے.
- خوشحال خان بابا صرف په يوه قلعه (رنتهمبور) کښې قېد تېر کړے دے او مسعود په ځلورو قلعه ګانو (دهک،سو،نائي او مرنج) کښې د قېد ورځې شپې سبا کړي دي.
- خوشحال خان بابا بادشاه وقت ته غصه او مسعود ورته منت زاري کړې ده.
- خوشحال بابا د قېد نه پس د بادشاه د نوکرۍ نه انکار او مسعود سعد اقرار کړې دے
- د دواړو شاعرانو په مينځ کښې تقريبا شپږ سوه کاله فاصله وه.
- سعد سلمان د غزنويانو په دوره کښې او خوشحال بابا د مغلو په دوره کښې قېد تېر کړې دے.

نتيجه:

د مسعود سعد سلمان او د خوشحال خان ختک د زنداني تقابلي جائزې د څېړنې نه دا ثابته شوه چې مسعود سعد سلمان د فارسۍ په حبسياتو او خوشحال خان ختک د پښتو په زنداني ادب کښې ثاني نۀ لري. دواړه شاعران د خپل وخت نابغه شخصيات دي. د دواړو زنداني ژوند او ادبيات مشترک او مختلف خصوصيات لري.

تجاويز

د خوشحال خان ختک زنداني ادبيات دې فارسۍ ته او د سعد سلمان حبسيات دې پښتو ته وژباړلې شي چې د دواړو ژبو ويونکي يې فراخه مطالعه اوکړي.

د دې دواړو شاعرانو په زنداني ژوند او ادبياتو دې تحقيق مخ په وړاندې بوتلے شي.

References


[1] Dawood, Dawar Khan, da Pakhto Adab pa Prakhtia ka n Parse Kerdar, Aafaq Printers Jangi Mehla Pekhawar, Oct,2017,p.16
[2] Ibid
[3] Sahfiq, Dr.Raza Zada, Tarikh Adabyat Iran, Terjuma,: Syed Mubarez Udin Reqat MA, Jama Hyeder Abad Dekan, Nedvat Ul Musanfin, Jama Masjid Dehli, Edittion: 3rd , March,1964, p.190
[4] Badkhshani, Merza Muhammad Baig, Adab Nama Iran, University Book Agency Lahohre,p.246
[5] Ibid,p.204
[6] Safa, Zabihullah, Tarikh Adabyat Iran,
[7] , Merza Muhammad Baig,p.246
[8] Ibid,p.201
[9] Zarin Anzor, da Zanziroono Shayer, da Afghanistan da Uolomo Academy, 1363 Hijra,pp.76-77
[10] Sahfiq, Dr.Zada,p.191
[11] Ibid,p.9
[12] Ibid,p.192
[13] Ibid,p.199 ۱۹۹
Khatak, Khushal Khan, Kulyat, Tertaib: Dost Muhammad Khan Kamal, 2nd
[14] Edition,Idera
[15] Ibid,p.582
[16] Kamal, Dost Muhammad Khan, Khushal Khan Khatak, Sawaneh Hayat, Shaheen, Books Spogamai Palaza Jamrod Road Peshawar, 2nd Edition,2006,p.60
[17] Ibid,p.270
[18] Khatak, Khushal Khan, Kulayat,pp.822-23
[19] Afzal Khan Khatak, Tarikh e Murasa, Terteeb wo Tadween: Dost Muhammad Khan Kamel Momand, University Book Agency Pekhawar, p.343
[20] Khatak, Iqbal Naseem, da Khushal da Garaftarai Tahqeeqe Jayaza, Peshawar University Journal, 1996-97,p.142
[21] Khatak, Afzal Khan, p.312
[22] Kulyat e Khushal, p.563
[23] Ibid, p.579
[24] Aman, Noor ul Basar,Dr. da Pakhtoo Zandani Adab, Ph.D Maqala, Pakhtoo, Sanga, Pekhawar Pohantoon, 2013
[25] Khatak, Khusahl Khan, Kulyat,p.46

[26] Ibid,pp.107-08
[27] Ibid,p.70
[28] Ibid,pp. 129-30
[29] Ibid,p.301
[30] Ibid,p.866